دمهجان شهادات سلی ساینسیم
تابرمردم گواه باشید پیا سر انقلاب عظیم شان گواه باشد

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (١٠٦٣) سال هژدهم شمارهٔ (١٥٠) پنجشنبه (٢٨) جدی ١٣٧٤ هـ ش (٢٨) شعبان المعظم ١٤١٦ هـ . ق (١٨) جنوری ١٩٩٦م

دکابل جلال آباد لویه لاره دترافیکو پرمخ وترل شوه

لاره به ترهغه وخته ترل شوی وی ترڅو پوری چی غیرقانونی پاټکونه نه وی لری شوی

سروبي - دمرغومي ٢٧ مه : پرون سهاروختي دکابل - جلال آباد لویه لاره دترافیکو پرمخ وترل شوه .

په سروبي کي د حزب اسلامي یوه مسئول خبرڅاي په یوه مخابروي تماس کي شهادت ته وویل چي دکابل - جلال آباد لویه لاره پرون سهاروختي دترافیکوپرمخ وترل شوه اوددي لاري ترل ترهغه وخته پوري به دوام ولري ترڅو پوري چي دلاري له اوږدونه ټول غیرقانوني پاټکونه نه وي لیري شوي .

نوموړي منبع وویل چي: دحزب اسلامي امنیتي مقاماتو دلاري په اوږدوکي دپاټکونودلیري کولو په اړه لازم (٤)مخ

استاد خلیلي دایران له سفیرسره وکتل

بامیان - دمرغومي ٢٧ مه : په کابل کي دایران سفیرپه بامیانوکي دوحدت اسلامي دعمومي منشي استاد عبدالکریم «خلیلي» سره وکتل .

دبامیانوله ولایت څخه دوحدت اسلامي یوي خبري منبع دمخابروي تماس په ترڅ کي شهادت ته وویل چي: دسه شنبي په ورځ په کابل کي دایران داسلامي جمهوریت سفیر اوددغي سفارت یوشمیر غړودبامیانو ولایت ته سفروکړ اوپه نوموړي ولایت کي ئي دوحدت اسلامي (٤)مخ

> **الهی لاربووني**
>
> کوم منافقان چی مومنان پریږدي ، له کافرانو سره ملګرتیا کوی ، هغوته دا زیری و اوروه چی دهغوی لپاره درد ناکه سزا تیاره ده آیا دا خلك د عزت لاس ته راوړلو لپاره هغوته ورځي ؟ پداسی حال کی چی هر راز عــزت یواځی دا لله لپاره دی .
>
> (النسـاء - ١٣٨ - ١٣٩)

> **برادرحکمتیارامروز درکنفرانس مطبوعاتي شرکت مینماید**
>
> برادرحکمتیار امیرحزب اسلامي افغانستان امروز "پنجشنبه" ضمن شرکت در کنفرانس مطبوعاتي ودررابطه با تحولات اخیر سیاسي نظامي کشور توضیحاتي خواهندداد .
>
> قراراست این کنفرانس مطبوعاتي ساعت (٣٠-١٠) قبل از ظهر امروز پنجشنبه دردفتر کمیسیون سیاسي حزب اسلامي واقع درسرك صاحبزاده عبدالقیوم ، یونیورستي تاون شهرپشاور برگزار گردد .

وروړ حکمتیار دحصارشاهی په جامع جومات کی دخطبی نه مخکی لمونځ کوونکو ته په وینا کی:

داخل روسان له افغانانو څخه دخپلی ماتی غچ دټانکونو په واسطه نه ، بلکی افغان دافغان په لاس وژنی ، له لاری اخلی

نن ددنیا په گوټ گوټ کی مسلمانان دافغانانو له جهاد نه درس اخلی اود دوی لار اختیاروی

مسعود گمان کوی چی ددی جنگ اتل اوقهرمان دی ، هغه دوکه شوی ، دجنگ قهرمان (کی - جی - بی) ده

حقیقت دادی ته په دی جنگ کی داسی استعمالیزی لکه دهاوان مرمی اویادباروتو بم چی دلیری نه دنورمنفجره کوی

چاچی دظلم اوفساد . مقابله ونکړه اوله هغه نه یی کرکه اونفرت نه و ، دظالمانو ، دمفسدینو په شان به دخدای (ج) دعذاب وړگرځی (٢)مخ

جریان ارسال مواد غذایي به افغانستان رامتوقف نمي سازیم

بي نظیربوتو

اسلام آباد - ٢٧ جدي : باقطع جریان ارسال مواد غذایي به افغانستان نمي خواهیم مردم افغانستان درمضیقه قرارگیرند .

به گزارش منابع خبري پاکستان این مطلب رابي نظیربوتو صدراعظم پاکستان هنگام ملاقات باسفیري فرستاده خاص سازمان ملل در امورافغانستان ابرازداشته است . ص(٤)

محمودمستیري د پولنډ سفر وروسته بیرته اسلام آباد ته ستون شو

مستیري په جلال آباد کي له حاجي قدیر اوجهادي شورا سره خبري کړي دي

جلال آباد - دمرغومي ٢٧ مه : محمودمستیري دیوي لنډي کتني لپاره جلال آبادته سفرکړي دي .

دجلال آباد لــه ښارڅخه دشهادت خبریال ریوټ راکوي چي: دافغانستان په اړوکي دملګروملتونودعمومي تولني ځانګړي استازي محمودمستیري اودهغه مرستیال اولیکو پرون ماسپښین له اسلام آباد نه جلال آباد ته سفروکړ .

مستیري دخپل پروني سفرپه ترڅ کي

په جلال آباد کي دننگرهارله والي حاجي عبدالقدیر برسیره دختیځو ولایتونو (٤)مخ

دننگرهارولایت دجهادي شورا له مخی :

دجلال آباد په ښارکي ٢٣ میله وسله او(٨) کسان ونیول شول

جلال آباد - دمرغومي ٢٧ مه : دننگرهارد ولایــت دجهادي شورا دپریکړي په اساس دجلال آباد په ښارکي دوسلوپه راټولولوپیل شوي دي .

دجلال اباد له ښارڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي : دننگرهاردولایت جهادي شورا دخوروځي مخکښي پریکړي په اساس دجلال آباد پــه ښارکی دهغه شمیرکسانوڅخه دوسلو راټولول پیل شوي دي، کوم چي دنوموړي ولایــت دجهادي شوراځوا ځانګړي استادله ځانه سره نه لري . (٤)مخ

مسئله اتحاد دوجناح حزب وحدت مورد بحث نبوده ودرآینده هم نخواهد بود

استاد « خلیلي » رهبرحزب وحدت اسلامي

سران اداره کابل اختیار دارند که دربرخورد باماراه جنگ راانتخاب می کنند یا راه تفاهم را

معاون وزارت خارجه ایران

مسئله یکي شدن واتحاد دوجناح حزب وحدت درمذاکرات ماباآقاي بروجردي معاون وزارت خارجه ایران موضوع مورد بحث نبوده ودرآینده هم نخواهد بود .

استاد خلیلي رهبرحزب وحدت اسلامي درمصاحبه بارادیوبي بي سي" پیرامون یك سلسله مسایل مربوط به بحران افغانستان ، مسئله اتحاد دوجناح حزب وحدت وتوافق آن حزب بااداره کابل وهمچنان بازشدن راه ها اظهارداشت که درسفرهاي بروجردي به بامیان ومذاکرات آنهاباما بیشتر روي عدم جنگ درهزاره جات صحبت شده وحفظ آرامش درهزاره جات مورد بحث قرارگرفته است مابه هیئات هاي متعدد «بروجردي گفته ص (٤)

طالبان حق ندارند به نمایندگي ازملت افغانستان هرچه بخواهند بکنند

علي اکبرولایتي وزیر خارجه ایران

برخوردطالبان باهیئات اعزامي مابه قندهارنشانه تمایل طالبان به استمرار جنگ در افغانستان است

علاوالدین بروجردي معاون وزارت خارجه ایران

تهران - ٢٧ جدي : ماهیچگاه مذاکره باطالبان راردنکرده ایم اما زیاده روي هاي آنهارانیز قبول نداریم .

این مطلب راعلي اکبرولایتي وزیرخارجه ایران طي مصاحبه مطبوعاتي باروزنامه « ایران » چاپ تهران ابرازداشته است .

داکترولایتي گفته است که مابه خواست طالبان هیئاتي به قندهار فرستادیم امازیاده روي هاي طالبان نیزمورد قبول مانیست وازجانب دیگرسیروقایع افغانستان هم طوري نیست که یك گروه به نمایندگي ازهمهٔ ملت افغانستان هرچه بخواهد بکند .

داکترولایتي درادامه سخنانش خطاب به طالبان گفته است که طالبان باید مطابق شعارهاي اولیه خود شان" بدون کاربرد اسلحه » براي استقرار صلح بکوشند ص (٤)

په جلال آباد کي دافغانستان دفرهنگي میراث دساتني په نوم یوسمینار جوړشو

دسمینارګډون کوونکو دلوړ شویو اوورکوشویو تاریخي اوفرهنګي اثارو دبیاراټولولوغوښتنه وکړه

جلال آباد - دمرغومي ٢٧ مه : دجلال آباد پــه ښارکي دافغانستان دفرهنګي میراث دساتني په نوم یوسیمینار جوړشو .

دجلال آباد له ښارڅخه دشهادت خبریال په خپل ریوټ کي لیکي چي : پرون دجلال آباد دښارپه سپین غرهوټل کي دافغانستان دفرهنګي میراث دساتني ترعنوان لاندي یه جوړشوي سیمینارکي دسیمنارګډون کونکوته دننګرهار والي حاجي عبدالقدیر ، دیوتان سفیر ګرارازیش، دایتالیاسفیراو UNHOR مشروبتاوي وکړي اودافغانستان دتاریخي اوفرهنګي آثارودساتني لپاره ئي دیوه موزیم دوداني دجوړولو لپاره دمرستوژمني وکړي .

خبرزیاتوي چي : په دغه سیمینار کي دافغانستان دلوټ شویو او ورکوو شویو تاریخي اوفرهنــګي اثارو دبیاراټولولو اولاس ته راوړلو پــه باب خبري وشوي اولازم تصمیمونه ونیول شول.

دګروژنی په ښارکی (٨٠) نور روسان یرغمل نیول شوی دی

دچیچن مبارزینوپه تورسمندرګی کی یوه بیړۍ له (٢٥٠) تنوسورلیوسره یرغمل ونیوله

د روسیی د پارلمان په پرونی بیړنی غونډه کی دپارلمان غړو دروسی په حکومت سخت انتقادونه کړی دی

چیچن - دمرغومي ٢٧ مه : دچیچن ازادي غوښتونکو مبارزینو دخپلوورووستیو کاري اوپرله پسي حملو په ترڅ کي دکرملین حاکمان له ډیري سختي وارخطائي سره مخامخ کړي دي .

دنړیوالو خبري منابعو په حواله ویل کیږي چي : دداغــستان دجمهوریت دپیروماسیکا باپه کلي باندي دروسي عسکرو دوروستیو حملو په ځواب کي دچیچن آزادي غوښتونکومبارزینو ٨٠ تنه روسان دتیري ورځي په اوږدوکي یرغمل نیولي اوهمدغه شان دچیچن دمبارزینو یوي بلي ډلي په تورسمندرګي (٤)مخ

چیچني هاي ساکن درسرحدات چیچن وداغستان در جاده اي که به قریه محاصره شده "پروومایسکایا" منتهي مي شود تظاهراتي درمخالفت باحضور نظامیان روسیه در چیچن برپاگردیده اند . در پیشاپیش تظاهرکنندگان تصویري جلب توجه مي کندکه مظالم دوره استالین برمردم این منطقه رامنعکس مي کند . ودر شعارکتبي مطلبي به این مفهوم « روسها از چیچن وداغستان بیرون شوید! » نقش شده است.

به اساس گزارش سازمان بین المللی :

جامعه جهانی مانع تخطی ازحقوق بشر در افغانستان میشود

طالبان هم بخاطر تصرف کابل اعتنایی به مردم بیدفاع ندارد

نیروهای اداره کابل مرتکب موارد نقض حقوق بشر شدند

لندن - ٢٧ جدي : موسسه عفوبین المللي باردیگر ازجوامع جهاني مطالبه نموده که براي جلوگیري از تخطي و نقض حقوق بشر درافغانستان دست بکارشوند .

مطابق گزارش خبرگزاري(فرانس پرس) موسسه حقوق بشر راجع به نقض صریح حقوق بشر درافغانستان مي گویدکه تنها همسایگان افغانستان دراین رابطه مسئول نبوده ،بلکه تمام کشورهایي که به جناح هاي مختلف افغان کمك تسلیحاتي مي نمودند، مسئول مي باشند .

این موسسه که مرکز آن درلندن است درحالیکه خواستار قطع ادامه جنگ وبرقراري صلح در افغانستان شده مي افزاید : طرف هاي درگیر به حملات زمیني وهوایي برمنازل مسکوني، شفاخانه ها، مکاتب ومحلاتي که مردم ازآن بحیث پناهگاه مخفي خرد استفاده مي کنند متوسل شده که این هم وراکت باري ها باعث تلفات جاني وخسارات مالي مردم بیدفاع مي گردد .

دراعلامیه سازمان حقوق بشر آمده است که تاپحال به اثر این گونه حملات ده هانفر درمناطق مختلف کابل واطراف آن کشته شده ویاجراحت برداشته اند وتنها ازتاریخ ٢٣ دسامبرتا١١ جنوري سال ص(٤)

حکومت پاکستان شرایط جدیدی بر موسسات خارجی وضع کرده است

پاکستان خواستار عودت افغان های است که درمناطق شان امنیت است

پشاور - ٢٧ جدي : حکومت پاکستان پس از انفجارات دراسلام اباد وپشاور،شرایط جدیدي را برموسسات وادارات خارجي کمك رساني به افغانستان وضع کرده است .

قرارگزارش منابع پاکستاني، حکومت پاکستان به همه موسسات وادارات خارجي که براي کمك به مهاجران افغان کارمي کنند، خاطرنشان ساخته که براي فعالیت ازکشورهاي مربوط وباسفارتخانه هاي خود درپاکستان اجازه نامه ومنظوري بدست آرند.

گفته مي شود که علاوه بروضع این شرایط، مذاکرات میان مقامات پاکستان ومسئولان موسسات مذکور ادامه دارد .

برخي نماینده گي هاي خارجي ازجمله موسسات اسلامي کمك رساني که شامل کشورهاي عربي بوده مي خواهند فعالیت ص (٤)

بدرجات شهادت علی بادیسم
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر : محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

داسلام د«برم» احیا، اود جهاد دقیادتوپریکړه ...؟

افغانانوچې په خپل هیوادکي روسي لښکري ماتي کړي، داماته په افغانستان پوري محدوده پاتې نشوه، یعني یواځې په افغانستان کي روسانو اودهغوي بې ننګواوبدکردازه کمونستومزه وړانوماتې ونه خوړه ،بلکي ټوله شوروي امپراتوري ونړیده .

دشوروي امپراتوري ماتې هم یواځې دیوې ستري اوهیبتناکي اردو ماتې نه وه ، تنها دیوې امپراتورۍ سیاسي شکست نه و، فقط یوې امپراتورۍ خپل دیرقلمرو له لاسه ورنکړ، یواځې یوه سیطره پای ته ونه رسیده - تردې ټولو دمخه یوه نظریه ماته شوه، یوشعارله منګه ولاړ، یوسیستم اونظام شکست وخوړ، هغه شعار، نظریه اوسیستم چې په ۷۰ کلونوکي دننه ئې دڅپاند توپان په څېردنړۍ لویه برخه لاندي کړه ،انقلابونه ئې راوستل ،حادثې ئې جوړې کړې اودزمانې په یوه حاکم ذهنیت واوښتله .

په لومړي قدم کي افغانان اوورپسې ټول مسلمانان لکه چې دژوند په ډیرو چاروکي له غرب نه په لرسخونوروسته پاتې دي، په دې کې ورروسته شول چې داوښودلای شي چې د«شوروي» او«کمونیزم» دماتیدلو ویاردااسلام او مجاهدینودي. متاسفانه دجهادقیادتونه خپره داسې لویوسرشول چې ددې موضوع نه ځوتوجه پریږده ، دیرې اسانه چارې هم ترې ویجاړې شوې.

غرب، په سرکې ئې امریکاد«شوروي» او«کمونیزم» ماتې دخپل سیاسي نظام اواقتصادي سیستم په وړاندې شکست وګڼله اوپه دې توګه ئې ځان دنړۍ دقیادت بلامنازع حقدارو باله . امریکادنوی نړیوال نظام «په نامه» نظریه وړاندې کړه اوامریکایان ئې دهغې دتطبیق ، څارنې اوزعامت علمبرداران اعلان کړل. هغوي دنړیوالو قضاباوریه وړاندې خپل سیاست په دې تکیوباندې عیارکړ چې « نوریه نړۍ کې نظریاتي جګړه پای ته رسیدلې اوتاریخ خپل منزل ته ورسید ....»

غرب تصورکاوه چې ددوي سیکولردیموکراسي اوداززادمارکیټ اقتصاد نوردوه هغه جبري اوقهري حقیقتونه دي چې ټول هیوادونه ئې له پیروي پرته بله لار په مخ کې نه لري.

مګردغیروخلوروکلونوپه لړکې موده کې قدم په قدم اوشیبه په شیبه حقایق ددوي دتصوراوانګل په خلاف رامخې ته کیږي ،دسیکولردیموکراسي تجربه په ګن شمیر هیوادونوکي ناکامه شوه ، داسي چې بیاپه دیکتاتوري تمامه شوه ،بیائې تشدد اوقهرجن غورځنګونه وزیږول اوبیائې دبیلتون ،انتشار اوتژادي ،اوسیکتاریستي رجحانونوهیجان په سوغات راوړل، داززادمارکیټ اقتصاد نوریه خپل وروستي اوج کې دي اودنوریرمختګ درهبري کفایت اوجوهرئې له لاسه ورکړي دي .

په دې علاوه دنړۍ یوقطبي حالت په چټکیا له منځه ځي او دڅوقطبي نړۍ ظهورتقریباً عملاً شروع شوي دي .

انسانیت ته چې دیوه نظریاتي پیغام اواخلاقي کړکټرپه تعریف اوعرضه کولو کي غرب له کومې ماتې سره مخامخ دي، هغه خوپخواني کیسه اودلرپه ځېروبیانه موضوع ده .

دلته دیوې خبرې یادونه لازمه ګڼو، هغه داچې ځیني داسې تصور کوي چې په روسیه کي بیا کمونستان دسیاسي بري په حال کې دي، نوشایددو کمونیزم» دیوې متبادلې نظریې په توګه بیوارې بیاسرراپورته کړي. خوداتصورکمزوري دي، ځکه په روسیه کي اوس دکمونستانوسیاسي بري ددې محصول نه دي چې هغوي خلکوته دکمونیزم نظریه ، سیستم اوشعارورپه یادکړي وي اوخلکودهغوي دنیا راژوندي کیدو په ارمان دکمونستانوملاترکړي دي .

کمونستانواصلاً په ځېنو روسي ناسونالیستي رجحاناتوباندي په ټینګاراوګرتي اینبردوسره دخلکوپشتیباني ترلاسه کړه ، اوس عملاً اوذهناً زمینه دې ته مساعده ده چې اسلام دیوې متبادلې نظرئې په توګه بنه اولوړموقعیت ترلاسه کړي ، ددې بنې ځرګندې نښې موجودې دي، په افغانستان کي اسلام پوستر پاڅون جراوورهبري کړ، البته دالهانه بحث دې چې ځینوخیانتونو او بې کفایتیونو ورورستي سوغات سپوتاژکړ، دایران داسلامي جمهوریت په ځینوسیاستونو انتقادونه په خپل ځای ،مګرهلته دیوه لوی انقلاب کیدل او په سیاسي اواقتصادي لحاظ دواکمنومسلمانانو بریاوي ، پرمختګونه اواستحکام دامت لپاره دامید اوداډ یوه مهمه منبع ده ، دالجزایر انقلاب یوه ستره پدیده ده چې شاید داوږدې پالنې مودې لپاره وځپل شي خونوروله تم کیدو اوشنډیدو وتلي بریښي .

په ترکیه کي دنجم الدین واربکان پخاموش اوارام انقلاب یوه نوې تجربه ده . دې تجربې داپه ډبروده چې نورداسلام «مجد،باورو برم» په راژوندي کیدو دي، هغه دوخت شدیدضرورت دي اودزمانې منطق اوتقاضا ده . داددې بنه ثبوت دې چې نورداسلام دراپورته کیدوحرکت په یوه «روش» اویوه «بنه » انحصار پرېښې اودیوې ټوندې اوهمه ګیرې» څپې په څېر له هرې خوا سرراپاسي .

لنډه داچې داسلام د«برم ،باورو عظمت» داحیافرصت دي، یوه طلائي موقع ده ، که مسلمانان له دې فرصت اوموقع ته په هوښیارې ، سوچ اوتدبیرګټه واخلي ، ان شاء الله دمسلمانانو دذلت دوردتل لپاره په پای ته رسیدلو دي .

په دې منځ کي تاریخ منتظردي ،زمونږدجهاد دقیادتونو پریکړي ته چې آیاهغوي خپل نقش لـه دول ټاپتولد غواړي ، داسي چې جبدي حالت ته ادامه ورکوي هغه حالت چې ګټلي میدان ترې په تللودي، ګټلي توم ئې برباد شو، اولویه لشحه ترې ویجاړه شوه . اوکنه تصمیم نیسي چې تیرهیرکړي ، تجدید نظروکړي ، اویه یوه مومنانه صداقت اومجاهدانه عزم پریکړه وکړي چې په خپل هیواد کي سوله ټینګه کړي، جګړه پای ته ورسوي،اسلامي حکومت جوړکړي اویه هسکه غاړه داسلام دبرم اوعظمت داحیا په نړیوال کاروان ورګډ شي . هغه کاروان چې ددوي اوددي دمومن ملت له جهادنه ئې الهام ستره مایه ده ، که دوي دالویه پریکړه وکړي نوداامت دعزت دراژوندي کیدو دقافلې په سرکې به روان وي، او هغه وخت به وي چې دجهاددقیادتونو په خپل اصلي مقام ګټلي وي اوزمونږمخلص اوبااعیمانه ملت به خپلې ټولې تاخیلې اوستومانې هیرې کړې وي .

داخل روسان له افغانانو څخه دخپلي ماتي غچ دټانکونو په واسطه نه ، بلکې افغان دافغان په لاس وژني ، له لاري اخلي

الحمدلله وکفی وسلام علي عباده الذین اصطفي وبعدفاعوذ بالله من الشیطان الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

« ألم ترإلي الملإ من بني اسرائیل منْ بعد موسی إذقالوا لنبيٍّ لهم ابعث لناملکاً نقتل في سبیل الله، قال هل عسیتم إن کتب علیکم القتال الا تقتلوا قالوا ومالنا ألا نقتل في سبیل الله و قدأخرجنا من دیرنا و أبنائنا فلما کتب علیهم القتال تولوا إلا قلیلاً منهم والله علیم بالظلمین .

» صدق الله العظیم «(سوره البقره - ۲٤٦)

دظلم انجام ، دقومونو عروج اوزوال

ورونو ! موسی علیه السلام دالله (ج) اولالعزم پیغمبرو دیوظالم واکداریه خلاف الله پاك دیومظلوم قوم دژغورنې لپاره پیداکړ،بني اسرائیل دژغورني لپاره الله (ج) غوښتل دفرعون په شان یومغرور واکدارچې دالوهیت دعوي ئې کوله اوویل ئې چې زه ستاسو اوچت او لوړرب او دمصردټولوشتمنیو اوځمکوټولواك یم . بني اسرائیل یې غلامي کي ساتلي، زامن ئې ورته وژني ، لوڼې ئې ددي لپاره چې په دربارونو کي ئې دوینځو په شان خدمت وکړي ژوندي ورته پریږدي .

دالله (ج) سنت دي ظالمانوته مهلت ورکوي، چې دهغوي کفراوبغاوت هغه آخري معراج اوحدته ورسیږي بیائې نیسي بیاهغوي دتخت اوتاج اواقتدارونسکوروولو لپاره الله پاك دغسي مظلوم قوم انتخاب کړي، دتاریخ ترټولو ستر، سترقوتونه دبغاوت اوسرکشي آخري حدته رسیدلي بیا الله پاك دمظلوموقومونوپه لاس نسکورکړي دادالله (ج) تغیرنه منونکي سنت دي، دائمي سنت دي، همدا راز فرعون دموسی علیه السلام تررهبري لاندي دبني اسرائیلوپه لاس ختم شو اوالله پاك دځمکي خلافت بني اسرائیلوته ورکړ، په ټولو قومونوئي ورته فضیلت ورکړ، دټول عالم رهبري اوقیادت ئې هغوي ته وسپاره اودځمکي دټولوشتمنیو وارث ئې وګرځاوه،الله پاك فرمائي چې مونږ بني اسرائیلوته په ټول عالم فضیلت ورکړ وجه ئې داوه چې هغوي دپیغمبرملګرتیاوکړه، بیائې پسه دي لاره کي په ستونزو اوکړاوونوصبروکړ، سخت حالات وریاندي راغلل صابرپاته شول، بې همتي ئې ونکړه، بې حوصلي نشول، دپیغمبر ملګرتیائې پرېنښوده په قتل وورسیدل صبرئي وکړ، هجرت ته مجبورشول ملائې وتړله اودپیغمبرپه ملګرتیاکي هغوي صابرپاتې شول ددغه صبرپه وجه الله پاك هغوي ته بري ورکړ اوفرعون ئې دهغوي په لاس ختم کړ،بیاپه بني اسرائیلو باندي دذلت یوسخت دوورالغی ،هغه وخت چې هغوي دالله (ج) په لاره کي جهاد پریښودوموسي علیه السلام ورته وویل چې دي ښارته ، ننه وځئ چې څنګه ننه وتلي ستاسودي خوهغوي بې همته شوي وو اوویل ئې چې ددي ښارواکداران جابردي، زورور دي ،مونږ دهغوي دمقابلي توان نه لرو، ته اوخپل خداي (ج) دي لاړشي وجنګیږي مونږدلته ناست یو په دي ترتیب ئې دالله (ج) په لاره کي دقرباني اوجهادجذبه ختمه شوه بې همته شول له همدي وروسته وچې په بني اسرائیلو دذلت اودنکبت سخت دور راغی ،سرګردان ،ذلیل ،دفقر، لوږي اوشکست سره مخامخ شول، ظالمان وریاندي مسلط شول، دخپل کور،ملك اوښې نه هجرت ته مجبورشول، چې سخت تنګ شول تودخپل دور پیغمبرته راغلل اووئې ویل چې مونږته یو امیروټاکه ترڅودهغه ترقیادت اوامارت لاندي دالله (ج) په لاره کي وجنګیږو، پیغمبرئي ورته وویل چې داسي نه چې درته امیروټاکلي شي بیا تاسودخداي (ج) پــه لاره کي قتال اوجهادونکړئ، هغوي وویل چې ولي به مونږدالله (ج) په لاره کي جهادنه کوو، په داسي حال کي چې دخپل ملك کور ،کلي اوښې نه ایستل شوي یواودخپل اهل ،عیال اواولادنه لري شوي یو، مونږ، دالله (ج) په لاره کي دجهاد کلك عزم کړي اودالله (ج) په لاره کي به جنګیږوخوچې کله دالله (ج) په لاره کي جهادپه هغوي فرض کړاي شونواکثریت دهغوي مخ واړاوومګرکم شمیر، الله (ج) دظالمانوپه حالت بنه خبردي، دهغوي پیغمبر هم ورته وویل چې الله (ج) تاسوته طالوت دامیر، قوماندان اوملك په حیث ټاکلي خوهغوي، دقوم مشرانوئي ، ملاء اوسردارانوئي پیغمبرته وویل چې دابه څنګه ددي وړوي چې زمونږ رهبري، امارت اوقیادت کوي، دامارت اودرهبري له پاره خومونږمناسب یوهغه خونادادي، مال دولت نه لري، درهبري، زعامت او قیادت لپاره خومالداریه کاردي ، أوزمونږ ددي قوم دمشرانو نه بایدیوکس وټاکلي شي، دانه دقوم دمشرانو په وړه کي دي اونه هم مال اوشتمني لري، چې کله هم یوقوم دالله (ج) له لاري نه "منحرف شي، بیائي ددین په نسبت تصورهم غلط شي بیاهغه دغسي مشران ځان ته ټاکي چې څوك دزور خاوند وي، دمال ،دولت اوشتمنیو خاوندوي اویه قوم لوټي کوي، فکرکوي چې دهغوي دامارت، قیادت اورهبري له پاره همداسي کسان جوړګه دي چې مالدار اوبډای وي اودقوم له مشرانوله جملي نه ئې هغوي همداوائي . خودهغوي پیغمبر دهغوي داغلط اعتقادتصحیح کوي اوورته وایي چې طالوت ته الله (ج) علماً اوجسماً دااهلیت ورکړي چې هغه ستاسوله پاره امیرشي، دامارت له پاره که څه ضروري دي نودوه صفاته دي، پوهه، علم ، بصیرت اوحکمت ضروري دي اوجسمي قوت اوتوانائي اوحضرت طالوت ته الله پاك همدغه برتري اوورتوب ورکړي و، اوددي دواړو صفتونو خاوند و .

قوم بالاخره دهغه امارت مني مخصوصاً پس له هغه چې دهغوي پیغمبرورته وائي چې دهغه دامارت نښه همداده چې تاسوته به هغه تابوت اوصندوق راشي چې په هغه کي ستاسو درب له لوري تاسوته داډ اواطمینان وي اودموسي اوهارون علیهم السلام نه بعدئي نښې، دتورات لوحې اودموسي علیه السلام امساء، همغه تابوت به راشي دیره زمانه داتابوت ددوي سره ؤ اودبني اسرائیلو داعقیده وه چې داددوي په لاس کي وي په هرجنګ کي به فتح ددوي وي ،دپوځ په لمړي سرکي بـــه ئي هغه حمل کولو اودادهغوي لــه پاره دداډاواطمینان وسیله وه، ګمان ئې کولو چې د اتابوت کله هم ددوي په لاس کي وي په هرجنګ کي به ددښمن په مقابله کي فتح اوبري ددوي وي ، په یوجنګ کي ددوي داصندوق له لاسه ووکړ له همغه وخت نه بعددهغوي همت ختم شو اوګمان ئې کاوه چې نورئې دذلت ،شکست اودرسوائي وخت پیل شوي دي، له دي نه بعدبیا ئې په جنګ کي فتح اوبري نه وي پیغمبرئي ورته وائي چې داتابوت اوصندوق مونږ تاسوته بیرته راوړي، ددښمن قوم په لاس کي چې داصندق ؤ په هرځاي کي چې به ئې ساتل هلته به بیماري خوره شوه ، مجبورشول چې هغه له خپل ځاي نه وباسي اوهمدغسي وشړل چې په مدار،مدار ملائکوهغه بیرته بني اسرائیلوته راوړو ددي په راتلوسره دهغوي یوځل بیا جرئت پیداشو، بیائي هغه جرئت ،میرانه اوشهامت راپیدارشول اوداډه اومطمئن شول چې اوس زمونږ دسعادت، بري اوعزت مرحله پیل شوي ده دادي هغه نښه هم بیرته په لاس راغله .

> هغه چې په سنګرونوکي پراته وو په بنګلوني شروع وکړه ناروانه ئي لاس کړ، حراموته ئې لاس کړاو کمونستانوته ئې لاس اوږدکړ، روسانوګټې لن اوږده کړه، هغوته ئې سوال وکړ ددي له پاره چې په اقتداکي پاته شي، روسان اوس هم افغانان وژني، په خپلوټوپونو ، ټانکونونه بلکې په خپلو لوټونو ناچلو نوټونووي

افغانانوامت ته دعزت احساس او جهادولوله ورکړه

دحضرت طالوت ترقوماندي لاندي هغوي ددښمن مقابلي ته ووتل خوهغه ورته وائي چې الله پاك تاسویه یونهر امتحانوي، ددي نه چې چا اوبه وڅښلي هغه به زمونږله ولي نه ،نه وي، هغه څوك زمونږ په ولي کي پاته کیداي شي ، زمونږ ملګرتیا کولي شي چې ددي نهراوبه ئې نه وڅښلي مګردډیرمجبوریت په وجه که چایوغړپ وڅښلي پروا نشته ، هغه هم کیداي شي زمونږ په وله کي شامل شي اوزمونږ ملګرتیا وکړي ،زمونږ اصلي ملګري هغه دي چې صبروکړي اوددي نهرداوبونه ئې ونـــه څښلي، الله پاك ددغـــسي دځپلي لاري مجاهدین ابتلاً کوي، رنګارنګ حالات وریاندي راولي اودهرقوم ابتلاً هم فرق کوي ، ازموینې ،خودپیغمبرعلیه السلام دامت ابتلاًپه مال کي ده، پیغمبرعلیه السلام فرمائي چې زما دقوم ابتلاً مال دي الله پاك به زماامت په مال ابتلاً کوي ترڅوګوري چې څوك خداي (ج) او آخرت ته ددنیا اوپه مال ترجیح ورکوي، څوك دمال مقابل کي خپل دین، عزت اوآخرت هرڅه خرڅوي، حتماً به خپل امت باندي داحالات راولي دپیغمبرعلیه السلام په امت باندي الله پاك داحالات راولي، په مونږباندي داابتلاً هم راغله چې دروس په شان دیولوي، مغرور چې په لویه برخه ددنیائي حکومت کولو، چادهغي دمقابلي توان په ځان کي نه لیده دهغه سره ئې مخامخ کړو، زمونږقوم کامیاب اوسرلوړي شو، قربانۍ ئې ورکړه یونیم ملیون شهیدان ئې ورکړل ، کورئې وران شو، کلي وران شو ، هجرت ته اړشول اویه هرکورکي یتیم ،کونډې ، زخمیان خوزمونږ قوم صبروکړ الله پاك په دي امتحان کي سرلوړي کړل ،الله پاك هغه ته فتح اوبري ورکړ، دښمن دهغه په لاس مات شو، یوه لویه امپراتوري شکست وخوړه په زوال محکومه شوه ، اسلامي امت کي یوه نوي ولوله راپیداشوه ، احساس دعزت ئي وکړ، دجهاد فریضه احیاشوه ،فلسطین کي جهادپیل شو، کشمیریانو وسلي ته لاس کړ ، په الجزایر کي ،په بوسنیا کي ،تاجکستان ، آذربایجان کي مسلمانان اسلام ته راوګرځیدل اواسلام له پاره ئې ملاوتړله ، جهادته تیارشول، ،نن په ګوټ ګوټ کي اوروچې مسلمانان دالله (ج) له پاره منظم کیږي له افغانانو نه درس اخلي، غواړي دافغانانو لار دوي هم اختیارکړي، دجهاد لاراختیارکړي .

دالله (ج) له لوري دروسانو ترماتي وروسته دافغانانو بل ازموینت

داافتخاراو سعادت دافغانانو په لاس ترسره شو ولي الله پاك غوښتل چې یوځل بیا هم افغانان ابتلاً کړي اوداځل ئې په مال ابتلاً کړي ، کابل کي دکمونستانو په ګډون یوائتلاف جوړشو، روس غوښتل چې هغــه کارچې په ټوپونواوټانکونو ئې ونشوکړاي داځل ئې په بانك نوټونووکړي، په ټانکونونشول، په ټوپونو ونشول ، په بمباریو ونشول ،هرڅومره چې هغوي فشارراوړلو افغانان لاپسې ټینګیدل، چې هرڅومره ئې بمونه اوورول همدومره دافغانانو عزم اوهمت لوړیده ، هغه دي نتیجې ته ورسیده چې په بمونو ټوپونو اوټانکونونه کیږي، دافغانانو دتسلیمولو بله لارباید اختیار کړي ،هغه همداچم وکړ چې داځل یو ائتلافي حکومت جوړکړي دکمونستانو اوځینوتش په نامه مجاهدینو اوبیا هغه ته په خروارو ، په ټنونو، په کانټینرونوله سکونه لوټونه راوړي اوپه دي سره افغانان دخداي (ج) له لاري نه منحرف کړي . هغه افغان چې دالله (ج) دکلمې دلوړولو له پاره ئې سرنذرانه کړ، دزوي شهیدته تیارشول ، دکوروورانیدل ئې ومنل، هجرت ته تیارشول، سنګرونوکي یې بمباري وزغملي ،توپونو او ټانکونوته تم شول خودبیرله هغوي نه دناچلونوټونوپه مقابل کي لاړل ددښمن په غیږکي پریوتل ،خداي (ج) ئې هیرکړ اودنیاته ئې مخه ، ستاسو دیرولیدل چې دپیسوپه مقابل کي بې همته شول، دپیسو په مقابل کي ئې عــهد او ژمنې ترپښولاندي کړې دپیسوپه مقابل کي بې خداي (ج) اوآخرت هیر کړل ، په فساد ،ګناه اوخیانت کي لګیاشول ، هغه چې په سنګرونوکي پراته وو په بنګلوني شروع وکړه نارواته ئي

(۳)مخ

په ښارکي څرګند شراب خرڅیږي

میوند

دکابل دجمهوري ریاست په محدوده کي د« امربالمعروف ونهي عن المنکر » یوریاست هم شته خوځوك دانشي ویلي چې کومې نیکې ته را بللو اوله کومې بدي نه دګرځولو هڅه کوي، کیدي شي داهم دهغوقضایي جبهو،غونډونواوفرقوپه څېروي چې دهیواد په لوېشت لوېشت کي واستادربانې له خوامنظوري شوي. یادهغو ولایتونو والیانو، ولسوالانو اوقاضیانوپه څېرچې واك یې له طالبانواوهم غزي شورا سره دي خوولایتونه ، ولسوالي ، محکمې، او علاقداري اووالیان، حاکمان ،قاضیان اوعلاقداران یې په کابل کي دي، پدي توګه همداکابل ټول افغانستان ګرځیدلي څکه دټول افغانستان اداري تشکیلات اوپرسونل همدلته راغونډ شوي څکه خوکه استاد دټول افغانستان دپاچاهي دعوه کوي نودیره بیځایه نده - دده لاسونه په ربښتیا هم دیراوږده دي دهرولایت تروالي - ولسوال، قاضي او علاقداره پوري رسیږي دتیلفون اوواګ په واسطه نه بلکي مخامخ وروسره مخاطبه اومکالمه کوي اودا ټول یې لکه دپخوانیو ددیوانو اوپیریانودکیسو په څېرکابل ته حاضرکړي اوترخپل نګین لاندي یې ساتلي دي، دنړي هیڅ جمهوررئیس ، پادشاه او دیکتاتور هم دومره توان اوسیطره نلري چې دټول هیواد والیان ، ولسوالان، قوماندانان ،قاضیان داسي په خپل موټي کي ټینګ وساتي . اوهرسهاراوبیګایې خپل مخ ته تیغ ودروي اوحاضریې کړي شي .

وایې چې دمحمدهاشم اداره دیرسخته اومضبوطه وه دده دکلکي اداري یومثال دوخت دیوې حساسي اداري مسؤل ماته داسي بیان کړي چې صدراعظم به هره شپه له نائب الحکومتونوسره ټیلفوني رابطه نیوله . دهرڅه پوښتنه به یې کوله : نن په منډیي کي دغنمونرخ څومره ؤ، نن څوټه بندیان لري ، دغلااوقتل کومه پیښه شوي که نه . څومره غیرحاضرمامورین لري داټولي پوښتني به یې هره شپه کولي اوشپه په شپه به یې لازم هدایات صادرول .

خواوس چې ګورو استاد له محمدهاشم خان نه هم دمضبوطو متوخاوند واکمن دي هغه د تیلفون په ذریعه له والیانو ، حاکمانواومسئولینو سره رابطه ساتله خودي چې وغواړي په پنځودقیقوکي ټول ارګ ته حاضرولي شي، لده سره داله دبن چراغ دي چې بل یې کړي دټول هیواد ټول پوځي، قضایي ، امنیتي اواداري تشکیل اوپرسونل یې په مخ کي حاضروي .

دامربالمعروف اونهي عن المنکرریاست هم دهمدغوتشکیلاتوپوټونوم دي که نه نو کوم منکر اوبدي پاتې ده چې په کابل کي نده شوي یاهم نه کیږي ، غلا، قتل دخلکوپرعزت ،ناموس اومال تیري ، دبیت المال لوټ اوچپاول داسي بدي به نه وي پاتې چې په کابل کي یې خپل راج اوحکومت نه وي چلولي، په باورسره ویلي شو چې ددغوبدیو دمخنیوي په اړه څکه دعمل اقدام چانس او فرصت نشته چې په همدي بدیوکي دواکمنو داقتداردوام پټ دي اوددغه بازار په سړیدو داقتداردبازار دسړو ګواښ یویقیني عمل دي .

هلته ټولك لــه هرډول پوښتني اوبازخواست نه دمصئونیت یو داسي سند دي چې جمهوررئیس یې هم نشي چلنج کولي، دټولك په مقابل کي دجمهوررئیس فرمانونه اوامرونه همدومره نقش لرلی شي لکه دیوه مظلوم اومحکوم زاري، چیغې اوفریاد .

دامربالمعروف اونهي عن المنکر اداري دوه داسي کارونه کړي چې ددوي دمزاج تمایلاتواو عطش نه دیره ښه پرده پورته کوي اودا په ګوتوکړي چې دیارانو اولولیت اوارجحیت کومې خواته دي .

دوغي اداري یواقدام دااعلان شوي چې حکم یې صادرکړي دښځواوناریته وو دفترونه دي بیل شي، یعني تورسري مامورینې دي په جلا کوټوکي اوناریته مامورین دي په جلاکوټو کي کاروکړي اوس که دیوه نارینه کارترهغه ښځینه ماموري پوري مربوط وي نوهغه دفترته به دده دننوتلو په هکله څــه حکم وي داخوطبابت اوداکټري نــده چې نارینه دي نارینه داکتر او توري سري دي ښځینه داکترته مراجعه وکړي ...

شکاکان اوکابل په اداروکي دځه وخت لپاره ټاکل شوي مامورین دانظر لرګندوي چې دتورسرو په بیلواوګوښیو دفترونوکي ایسارول یوداسي اقدام دي چې ارباب اقتدارکولي شي هلته داداري اجراآتواوضرورتونوپه پلمه دیره ښه چشم چراني وکړي اودخپلو هوسونو دخړیولوپه تکل ترې دیره زیاته استفاده وکړي ،په حقیقت کي داکار ددوي لپاره دخلکو له نظر اوانتقاده نه لیري دخپلو وزیوهوسونو دمړولو یوه ناکامه هڅه ده اوبس .

دامربالمعروف اونهي عن المنکربل په اصطلاحي اصلاحي اواسلامي اقدام دادي چې په ښاري بسونوکي تورسري اونارینه باید بیلابیل سفروکړي .

اوس خواول په کابل کي ښاري سرویسونه دواکمنوله برکته ندي پاتي اوچې څوعرادي واړه موټرپاتې دي هغه هم په داسي بدحالت کي دي چې دموټرتوم وریوري کول به سمه ده چې بې انصافي نه وي خودموټرله تعریف سره هم برابرندي .

داروانبادمحمد موسی شفیق په صدارت کي داسي یواقدام پدي ډول وشو چې په ښاري لویوسرویسونوکي چې دټاکلي پروګرام له مخي به یې په ټاکلو سرکونوتګ اوټاکلوتم ځایونوکي توقف کاوه دتورسرو اوناریته وو دختلودروازې بیلې کړې له مخکي دروازې نه تورسرو اوله وروستي نه نارینه وو استفاده کوله پنځه شپږسیټونه پــه هرسرویس کي دتورسرو لپاره څوره شوي وو اودیوه وسپینږځمځیریه واسطه دسرویس دتورسرو برخه دنارینه وو له برخي نه بیله شوي وه .

خواوسنیریاست په تم ځایونوکي ټوپلك والا درولي دي په یوه موټرکي نارینه اویه بل کي تورسري څیژوي، دي ته هم دوي کارویلي او پــه دیره زیاته پاملرنه اوتبلیغاتي کمپاین یې ترسره کول غواړي .

پدي توګه تورسري هم په ساعتونو ساعتونو په تم ځایونوکي ولاړې وي چې ددوي وارواشي او موټروك شي .

وایې چې له تورسرونه دموټرډکیدل دیروخت نیسي او موټرچلوونکي حاضرندي په تش موټرحرکت وکړي .

پدي اړه دکابل دواکمنوپاملرنه اوتلوسه خپله یوسوال دي، یوداسي سوال چې دامربالمعروف او نهي عن المنکر دشعارګرځولو په پرده کي دخپل دمزاج اوظرفیت څرګندونه کوي آخردا اداره لدغه معروف نه څنګه سترګي پټوي چې دخلکودعزت ناموس اوسرونو سوداګري اودمالونو لوټمارهم ګناده که نه اویه زور ،سازش ، توطئو بې شرمیو اوسپین سترګیو داقتدار لپاره دملت جنازه پورته کول هم جرم دي که نه (!) .

سړي ته پوښتنه پیدا کیږي چې دکابل واکمنوته دغلا، قتل، اودخلکودعزت اومال لوټل ولي بدي اوګناه نښکاره کیږي! دهیواد ورانې اوتباهي اودعصمتونو سوداګري ورته ولي جرم نه معلومیږي! پرعزتونو تیرولي او څنګه جنایت نه بولي! دبیت المال لاندي کول اولوټمار اوناروا جګړه اوربنتونیول په منکراتوکي نه شمیري ؟

چې دمنع کولو اومخنیوي خبرې وکړي، لدي معلومیږي چې دا کاروته العیاذبالله منکرات ګڼل شوي نده ، بدي یواځې په تورسروکي ده چې ښایي په ګوښیوکوټوکي ایسارې شي،

پداښارکي څرګندشراب خرڅیږي
محتسب دباده نر شورعایت کا

برخی ازاعضاي جمعیت برعلیه رباني بغاوت کردند



داخل روسان له افغانانو څخه دخپلې ماتې غچ دټانکونو په واسطه نه ، بلکې افغان دافغان په لاس وژني ، له لارې اخلي

لاس کېږ ، حرامسوته ئي لاس کړاو کمونستانوته ئي لاس اوږدکړ، روسانو ئي لن اوږده کړه، هنډته ئي سوال وکړ ددي له پاره چي په اقتداکي پاته شي، روسان اوس هم افغانان وژني، په خپلوتوپونو ، ټانکونونه بلکي پـه خپلولېټونو ناچلو نوتولو یعقه لـه افغانانوته غچ اخلي دخپلي مـاتي غچ، دخپل سپکاوي غچ، دخپل ذلت غچ خوداخل په توپونو نه ، په ټانکونونه ،داخل افغان دافغان په لاس وژني اوله هغوي نه غـچ اخلي . بیاهم همغسي پـونه دي، همغسي توپونه او

د الله (ج) سنت دي ظالمانوته مهلت ورکسوي ، چي د هغوي کفر او بغاوت هغه آخـري معراج اوحدته ورسیږي بیاني نیسي یاهغوي دتخت اوتاج اوداقتداردنسکورولو لپاره الله پاك دغسي مظلوم قوم انتخاب کړي، دتاريخ تر ټولو سـتر، ستر قوتونه دبغاوت او سرکشي آخـري حدته رسیدلي بیا الله پاك دمظلومو قومونو په لاس نسکوروکړي دا دالله (ج) تغیرنه منونکي سنت دي، دائمي سنت دي.

ټانکونه استعماليږي خو د هغه ترشانن روسي نـه دي ناسـت، روسي نن میدان دجنگ کي نه مري، هغه فقط ددي صحني تماشاکوي اوهغه خپل غچ اخلي الله پاك هم زموږقوم په هـمدي امتحان کوي، پیغمبرعلیه السلام فرمائي چي زمادامت ابتلاً مال دي . په مال کي دي .

ډیرمولیدل چي پـه همغه اولوشپو ورځو کي ئي سقوط وکړ، ناکام شول اوپه پیسوئي خپل دین،ایمان اوآخرت خرڅ کړ، دیروتریوي مودي پوري صبروکړ. ثبات اواستقامت ئي همدومره ؤ تریوونه پوري صبرکولي شو آخر شیطان وریاندي غالب شو اوصبر، ثبات اواستقامت ئي له لاسه ورکړ هغـه هـم ولوېدل . نسکورشول همدغسي لکه دحضرت طالوت لښکر . الله پـاك دهغوي په باب فرمائي چي اکثرددوي ددغـه نهرد اوبوتـه وڅښل فشربومن الاقلیل منها اکثر ددوي په دي ابتلأ کي ناکام شول لـه دي اوبوته ئي وڅښل مگرکم شمیر محدود شمیر صبر وکړ.دحضرت طالوت خبره ئي ومنله اوله دي نهرنه تیرشول دامتحان اوابتلاً نه تیرشول، چي کله دښمن سره مخامخ کیږي نوهغه چي اوبه ئي څښلي دي وائي چي مونږدجالوت دلښکرومقابله نشوکولي . لاطاقت لنااليوم بجالوت وجنوده .

دحضرت طالوت د لښکر کیسه او مـــور تـه یې درسونه

دجالوت اودهغه دلښکروتوان طاقت په ځان کي نه گورو، مقابله ئي نشوکولي، داهغه کسان وو چي په امتحان کي ناکام شوي وو اوچي هغه اوبه ئي څښلي ، دهغوي ځواب داؤ چي مونږدجالوت اودهغه دلښکرومقابله نشوکولي، همغه کسان چي په آخرت ئي باوروو اوپه دي ئي یقین ؤ چي له خداي (ج) سره به مخامخ کیږي .

هغوي ویل چي ډیر، ډیرځله یومحدود شمیرلښکریه لویو، لویو پوځونوغالب شوي خداي (ج) سره دي دهغوي ځواب داؤچي الله (ج) دصابرانوملگري دي اوکم ټولگي ته هم په لوي ټولگي خداي (ج) ورته بري اوغلبه ورکولي شي ، په بار، بار داتکرارشوي دي، یووړکي ټولگي ته خداي پاك په یولوي مجهزمسلح قوت بري ورکړي نوالله پاك فرمائي چي «...» دعاوکړه .

ترجمه : اي خدایه په مونږصبرنازل کړي، مونږ ته صبراپه برخه کړي، زمونږ قدمونه ټینگ کړي اوپه کافرقوم مونږغلبه اوبري راکړي ، هغوي همدادعاوکړه الله پاك دهغوي دعاقبوله کړه اوددوي په لاس ئي جالوت او دهغه لښکروته شکست ورکړ، ددوي په دله کي یوځوان ؤ حضرت داود(ع) ، هغه هم غوښتل چي په دي لښکر کي دحضرت طالوت ترقوماندي لاندي برخه واخلي، خپله مشلیله ئي راواخیسته بله وسله ورسره نه وه راروان شو په دي لښکرکي هغه هم شرکت کړي ؤ اوبالاخره دهمدغه حضرت داود په خپله مشلیله سره ددښمن دپوځ په سرقوماندان اوسردارچي په زرهي کي پټ ؤاوپواځي تندي ئي لوڅ و، گوزارکوي اودهغه په تندي لگیږي له دي سره راپرېوزي او په داتري لښکرباندي دهغه دقتل اومرگ نه بعد ویره اوخوف مسلط کیږي ، پراگنده کیږي ماتي اوشکست خوري .

ووروڼو! الله پاك په دي کیسه کي چي په قرآن عظيم الشان کي راغلي اودیوقوم حقیقي داستان دي، مونږته څو درسونه راکوي ، لمړي اواساسي درس دادي چي له ذلت نه دنجات لاردالله (ج) په لاره کي دجهادلارده ، عزت ته درسیدلوبله لار نشته ، دالویه خبره وه ، داددي قصي لوي درس ؤ، داٹن ورځ ددنیاجریانات مونږته همداخبره کوي، ډیروقومونو دجهاد نه پرته نوري لاري دعزت اختیارکړخوعزت ته نه دي رسیدلي، داسلامي حکومت دقائمولوئي نوري لاري غوره کړي دي خوکله هم نه دي توانیدلي چي اسلامي حکومت دي له نوروﻻرونه قائم کړي .

زمونږ څنگ ته هغه بله ورځ دترکیي انتخابات شوي، دترکیي ملت داسلام په گته رایه ورکړي ، په پیپهو ، پیپهو غرب په هغوي حکومت وکړ اوروپا وریاندي حکومت وکړ خـونن چـي هغوي ته دانتخاباتومجال پـه لاس ورغي هغوي داسلام په گته رایه ورکړه هغوي اسلامي نظام غواړي ولي تاسو گورئ چي دښمنان ئي نه پریږدي چي اسلامي حکومت دي هلته قائم شي، له دي نه دمخه الجزایر کي همدا وشول، دالجزایرقوم مطلق اکثریت اسلامي جبهي ته راغي اسلامي نظام ئي وغوښت ،اسلامي حکومت ئي غوښته خوتاسوولیدل چي داسلام دښمنانوامریکا، غرب پرینښودل چي دالجزایر قوم دي اسلامي حکومت ترلاسه کړي اوهغوي دهغوي په خلاف جگړه پیل کړه، انتخابات لغوشول، پوځ وریاندي مسلط شو، دپوځ څو افسرانوقدرت په لاس کي ونیوه .

دوهم درس دادي چي دالله(ج) په لاره کي ابتلائات حتمي وي داد لوړ واوږدوونیه وك مسیر دي، دلته به له خم اوپیچ سره ، لوړو ژوروسره خامخا مخ کیږو امتحانونه شرط دي ابتلائات حتماً راځي اوددالله (ج) سنت دي هغه غواړي چي پاك اوناپاك سره بیل کړي، مخلص اوغیرمخلص سره به همدغو ابتلائاتو اوامتحانونوکي سره بیل کیږي ، په خپله وعده اوایمان کي رینښتیني ،له کاذب منافق اوددرواغجن نه بیل وي ، څوك دالله (ج) لپاره اوچت شوي، څوك په رښتیا دالله (ج) رضالټوي، دالله (ج) ددین قائمول غواړي، څوك هم ددنیا له پاره په دروغو اوریاسره په دي وله اوصف کي راغلي دابه سره بیلوي، دچا ایمان په الله (ج) باندي ثابت دي، ټینگ دي، چي په حوادثو کي نه متزلزل کیږي ، شیطان ئي نشي دوکه کولي تکلیفونه ، مصیبتونه اومشکلات ئي له لاري نشي منحرف کولي، هغه ستومانتیانه مني ،الله پاك به داخلك سره بیلوي لکه چي دحضرت طالوت پوځ ئي چي دنهرپه اوبوامتحان کړ.

دادصابروشکیباخلکولارده ، په دي خم اوپیچ لارکي دلوړواوژوروونه دکه لارکي دقوي ایمان خاوندان ، دصبراو استقامت خاوندان تللي شي چي په خداي (ج) ئي باوروي اوپه دي ئي یقین وي چي له خداي (ج) سره مخامخ کیدونکي دي، زمونږ دپیغمبردامت ابتلاً اوامتحان په مال سره کیږي . ډیر مو ولیدل چي په ستونزو اوکړاونوکي صابرپاته شول خوچي درفاه ، دکثرت، دوفرت او آرامي وخت راورسیده ناکام شول ،سقوط ئي وکړ، شکست ئي وخوړو، دشیطان مقابل کي تم نشول ، لاړ دمال په مقابل کي ئي خپل دین خرڅ کړ خپل جهادئي خرڅ کړ، خپلي ژمني اوتعهدات ئي تریپسو لاندي کړل ، دغلام غلام شول، داقتدار لـپاره ئي حتي هندوته لاس ورکړ، ملحد روس ته ئي هم لاس اوږد کړ دپنځو پیسـو لـه خاطره دخپل وروړ سره هم وجنگیدو، ډیر بیا داسي ؤ چي دغلام غلام شول ،یوهغه دي چي هندوته ئي لاس اوږدکړ اوبل هغه چي دپنځوروپیولپاره ئي دهندودغلام لمن ونیوه ، خپل تنظیم ئي هم په پیسوخرڅ کړ ،دغسي خلك هم راڅرگندشول، جگړي ئي په قوم تحمیل کړي، اسلام ئي بدنام کړ، جهادیي بدنام کړ، دامت هیلي اوآرزوگاني ،خاووسره ،برابرکړي ، دافغانانو شمله ئي ټیټه کړه ، په دنیاکي دهغه اعتبارختم شو، بت شکن افغانان دکفر الحاد سنگرته ولاړل والحاد دملي نیولوته ، هغـه په هندواوپه ملحدبباندي متکي شو .

